د ستراوڅواکمن څښتن تعالی په سپېڅلي نامه

Logar

لوګر

میاشتنۍ خپرونه

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

یکشنبه د۱۳۹۴ کال دسلواغې میاشتې څلورمه، د ۲۰۱٦ عیسوي کال دجنوري څلورویشتمه (۱) پرله پسې ګڼه (۷٦) لومړی کال، اتمه ګڼه

## څلورغوره ویناوې

۱ ـهر ډول چې غواړې ژوند وکړئ خو باید وپوهېږئ چې مرګ ستا په انتظار کې دی. (امام محمد غزالي)

۲ ـڅوک چې سپورټ کوي، درملو ته اړتیا نه لري، علاج یې په خوځښت او حرکت کې دی. (ابن سینا)

۳ ـ د غوسې دوا خاموشي ده. (سقراط)

۴ - خواشیني د یو ښار په څېر دی، که انسان ترې کډه وتړي، کولای شی نېکمرغی له سره پیل کړي. (ویکتور هوګو)



# سیستم آبرسانی نیز درشهرپل علم فعال خواهد شد

این مطلب را سید سعادت منصور نادری وزیرشهر سازی به تاریخ 23 جدی درجریان بازدیداش ازولایت لوگربیان نمود.

وزیرشهرسازی درنشستی که با والی لوگر داشت درجریان صحبت هایش گفت: هشتادونه درصد پلانهای شهری درلوگر عملی نگردیده و هفده درصد زمین های دولتی غصب شده، بیست درصد زمین تحت دعوی بوده است.

وی عملی نه شدن پلانهای شهری را ادامه دعاوی مافیای زمین درنهادهای عدلی و قضائی وانمود کرده افزود: پنج سروی درولایت لوگر صورت گرفته نشاندهندۀ غیر متوازن بودن انکشاف خدمات را نشان میدهد.

وزیر شهر سازی درضمن صحبت هایش گفت که مقرره شهر سازی درکل تنظیم شده که بعداز امضاء به توشیح رییس جمهور خواهد رسید. وی افزود ، بیست و شش درصد مردم کشور شهر نشین گردیده و به همین منظور پلانهای تفصیلی درست شده که از آن جمله سیستم آب آشامیدنی درلوگر درنظر گرفته شده است. وزیر شهر سازی افزود : کشورچین اعمار ده هزار منازل مسکونی را درکابل مدنظر گرفته و کوشش داریم ازآن جمله سه هزار منازل مسکونی را به ولایات اختصاص داده شود وبه همین منظور سفری به چین دارم. بقیه در ص3

## سرلیکنه

### زده کوونکي باید دژمني رخصتیوپه ګټې اخیستو؛زده کړوته وهڅول شي

دخوارلسو کلوراپه دیخوا کله چې په افغانستان کې لنډمهاله اداره رامنځته شوه؛ افغان غیرتي ولس اومیشته قومونو په دې پوه شول، چې دتعلیم څخه نور داسې لاره نشته، ترڅو دټولنې په پرمختګ اودخلکو په پوهاوي کې مثبت بدلون راولي، نوپه دې اساس دولت هم دښوونیزسیستم په بیاجوړونه کې قانوني ګامونه پورته او دهیوادوالولپاره یوملي نصاب رامنځته کړ، چې ورسره ولس په دې لاره کې هم هلې ځلې پیل کړې او خپل ماشومان یې ښوونځیو اوتعلیمي مرکزونوته ولیږل، چې په تدریجي ډول دښوونې کچه ورځې تربلې اوکال په کال زیاتیدل، چې دامهال په هیوادکې دښوونځیو، دیني مدرسو، پوهنتونونواوترڅنګ یې خصوصي ښوونځي اوپوهنتونونه جوړاوپه فعالیت یې پیل کړی دي، چې دا په جوته توګه دخلکو مینه اوعلاقه دعلم اوزده کړې سره ښیي، چې دوی دښوونې په پیاوړتیا کې هلې ځلې ترسره کړي اوغواړي، چې نوردهیوادڅخه دناپوهي تغرټول شي.

داچې افغانستان دژمې په موسم کې تودې اوسړې سیمې لري، نو په تودو سیموکې ښوونځي او ښوونیزمرکزونه فعال اودسړوسیمو ښوونځي په دریومیاشتوکې رخصت وي اوزده کوونکي په کورکیږي، نوبایدد کورمشران اوپلرونه خپل ماشومان وهڅوي، چې دژمې موسم څخه دزده کړو دترلاسه کولواو دراتلونکي ښوونیزکال دپیل لپاره بشپړه تیاري اوآماده ګي ونیسي اوپه راتلونکودرسي چاروکې ستونزې ونه لري، خپل ماشومان دې دبې ځایه ګرځیدواوبې ځایه لوبوکولوڅخه منعه کړي، ژمني کورسونوته دزده کړولپاره اوهمدارنګه دیني مدرسو اودکلي جوماتوته دولیږي، ترڅو ددغه دریومیاشتو څخه پوره ګټه واخیستل شي، د دوی د پوهې دکچې په لوړتیا کې هم مثبت بدلون راتلای شي او دوخت دضایعه کیدومخه هم نیول کیږي، ځکه چې ویل شویدي، چې وخت سره زر دي، رښتیاهم وخت تلونکی ده اوبیرته نه راګرځي، دیوې تورې اوکلمې زده کړه دټول عمرهوساینه او آرامتیا ده، نوباید ټولولپاره اړین وګڼو، چې خپل اولادونه زده کړې، تعلیم اوپوهې ته تشویق کړي، چې ماشومان د خپل دځان راتلونکی دلاس امساء وګرزي، زده کړه ده، چې څوک دکسب اوکارخاوندان کوي او ورسره دکورلپاره حلاله نفقه اوروزي ترلاسه کولای شي او علم ددنیا اوآخرت لپاره کښت دی، چې څوک یې زده کړي. په خپلوماشومانو زیار وباسئ، چې دښوونځیواودپوهنتون زده کړو ترڅنګ دیني زده کړې هم وکړي، ځکه تنها په عصري زده کړوبسنه ونشي او په خپلو دیني زده کړو مونږباید برلاسی هم ولرو، ترڅو په آخرت کې دجنت له خوږو میوو څخه برخمن شو. دعلم ترلاسه کول ددنیا اوخرت بریالیتوبونه دانسان په برخه کیږي، په دنیاکې دناخوالواوبدبختیو سترلامل دجهالت تورې تیارې دي، چې ددې له منځه وړلو لپاره یواځې پوهې اوتعلیم ته کار وشي اودعلم زده کړه په هیوادکې دیوفرهنګ په توګه وکارول شي، راځئ، چې دعلم ډیوې دهیواد په ټولوکلی، باندواوښارونوکې ځلانده بلې وساتو، دناپوهی پروړاندې ټول مسؤل یاستو، چې ستره مبارزه پیل او دهیواد څخه دجهالت تور تغرټول اودسولې، ملي یوالې او ورورګلوي فضا رامنځته کیدوټولنه مودعلم په جامه سینګار کړو.

اداره

# د پکتیا له پوهنتون څخه د لوګر زده کړیالانودخپل دفراغت جشن ولمانځل







د لوګر ولایت ۱۲۰ تنه زده کړیالان د پکتیا ولایت له پوهنتون څخه فارغ او دمرغومې په شپږمه دفراغت جشن دیوې شانداري غونډې په ترڅ کې ولمانځل. دغه لمانځغونډه چې له همدې امله د پل علم ښاروالۍ په تالارکې جوړه شوې وه.

د لوګر ولایت مرستیال قمرالدین شکیب، د ولایتي شورا رئیس سید قریب الله سادات او غړویې، د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمدشفیق پوپل، دځینو اداراتو رئیسانو، استادانو، زده کړیالانو او ددوی د کورنۍ غړیو ګډون کړی ؤ. د لوګر ولایت مرستیال قمرالدین شکیب؛ فارغو ځوانانو ته د مبارکۍ دوراندې کولو پرمهال وویل: علم او پوهه یواځنۍ ملي پانګه او د هېواد د پرمختګ او ترقۍ یواځنۍ لاره ده او تخصص او علم له هېواد سره له ژمنې پرته په خپل اصلي ځای او مقام ونه ساتي. شکیب له فارغانو وغوښتل چې دغه اصل ته په خپل لومړیتوب کې ځای ورکړي. دغه راز دولایت مرستیال ژمنه وکړه، چې د امکاناتو تر پولې به فارغانو ته د کار زمینه برابره کړي.

د پکتیا پوهنتون استاد پوهنیار عبیدالله اخند زاده باخترآژانس خبریال ته وویل: سږ کال د لوګر ولایت ۱۲۰ تنه ځوانان د دغه پوهنتون د کرنې، ښوونې او روزنې، انجنیری، طب، حقوقو او د ادبیاتو له پوهنځیو څخه فارغ شوي دي او دامهال د لوګر ولایت ۸۵۰ تنه ځوانان د دغه پوهنتون په بېلابېلو څانګوکې په زده کړې بوخت دي. یوتن فارغ شفیع الله باخترآژانس خبریال ته وویل: سره له دې چې ډیر خوشحاله یم چې نن د خپل فراغت د جشن شاهدیم؛ خو له دې امله چې د نورو په شان وزګاره پاتې کیږم ځوریږم.

شفیع الله د فارغانو یواځنۍ ستونزه؛ وزګارتیا وبلله او له دولت او اړوند بنسټونو څخه یې وغوښتل چې دوی ته د کار زمینې برابرې کړي.

ددغه غونډې په پای کې هغه ستاینلیکونه چې د لوګر ولایت د مقام، د ولایتي شورا او د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا برابر شوي ؤ؛ په فارغانو وویشل شول.





# تحت نام جام صلح مسابقات ووشودرولایت لوگرپایان یافت

تحت نام جام صلح مسابقات ووشو که برای مدت سه روزدرشهرپل علم راه اندازی شده بود به تاریخ 21 جدی پایان یافت.

خلیل الله توکلی مسئول فدراسیون ووشوولایت لوگربه آژانس باخترگفت که این مسابقات به هدف تامین صلح ورشدورزش ووشودراین ولایت راه اندازی شده است،آقای توکلی اضافه نمود که مسابقات یادشده میان هشتادتن ورزشکاران کلپ ووشوکاران توکلی، کلپ ووشوکاران انجمن بنیان گزاران ووشو ، کلپ ووشوکاران صلح و کلپ ووشوکاران انجمن جوانان ولایت لوگردرچهارده اوزان مختلف برگزارشد بود که با قهرمانی ووشوکاران صلح پایان یافت.

محمدحلیم فدایی والی ولایت لوگردرپروگرام که به مناسبت اهداء جوایزومدال ها به ورزشکاران درتالارکنفرانس ریاست اطلاعات وفرهنگ به تاریخ 21جدی راه اندازی شده بود گفت که ورزش ضامن صحت وسلامتی انسان است و ورزشکاران پیام آورصلح میباشند ،والی لوگرازاینکه مسابقات تحت نام صلح راه اندازی شده بود اظهارسپاس وقدردانی نمودوخاطرنشان ساخت که صلح وابسته به افراد است وزمانی درکشورصلح تامین میشود که درقدم اول توانایی های جسمانی وفکری خودرا با ورزش وعلم بالاببریم وصلح را دروجودخود تامین نمایم،آقای فدایی ازورزشکاران خواست که دربین خودرقابت مثبت نمایند. محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ درجریان سخنانش صلح را ازنیازهای اساسی دانیست... بقیه درصفحه دوم

**ترسترو ماڼیواوکورونو؛ یو وړوکی کتاب، چې زړونو ته خوښي بخښلای شي، غوره دی.**